

# د دوکتور نجیب اله په ویر کې د پوهاند زیار شعرونه:

## شهید

کله چې لمر شهید شو،

شول د سپوږمۍ نمري تور،

یو تور تیاره پړونی

پر ټول جهان شو راخپور،

د شنه اسمان پر کلي

د رڼو ستورو پر کور!

# د زېړونو واکمن

د زېړو پر ملک يې، وار چلاوه چې،

هغه واکمن چا، له تخت راکښېست ...

چې يې غمي ول، د هسک برم ستوري،

چا يې له سره، آ خول راپرېست؟

# له امانه تر نجيبه

د امير امان الله

او ډاکتر نجيب الله

له ګډو اړخونو

يو دادی چې

دواړه په يوه زنګوهلې توره

له منځه ولاړل ...

او ورپسې

ورته ((سقاوۍ)) راغلې .

# بیګناه بندي

مه وژنئ

دغه بیګناه بندي!

مه وژنئ

دهغو ناسکه بدوردو   وروﻧﻮ

په ګناه ،ګرم وغچ لېر.د

دابېګناه بندي،

دغه دبېشمېرو ناسپېرلو شنو خوبونو

دماناوو،تعبیرو ویاند!

مه وژنئ

د خدای په پار،

دومره په پرغزاوبېلورى

دابېګناه بندي،

مه پاکوئ لاس مو پرې

دخپلوګناهونو د سپینتان په پار!

مه وژنئ

په تش تور دناکړې ګناه

دغه بېګناه بندي،

دغه دښایست دصحیفو یوسف ....

ګوندې یوه ورځې شي امیر ددغه مصر بیا،

نه چې یې و نه شي کړای پوره دوینې بیه

په اسان بیا!

مه وژنئ

دادامن وسولې پيغمبر

هسې ښکېللی بېګناه بندي؛

ډېر يې په بند

زليخايي مينې پښېمانې دي

ډيرې يعقوبي  سترګې

په تېو دي ړندې  له بيلتانه پسې ....

پرې ،

له تورې ګورنډې دزندانه

رابهرشي او

رېښې رېښې کميس يې

رڼايي دړندوسترګو شي!

پرې ،

دغه ځلانده لمر

بيا وځلي د ډېروبرخليکونو

پر تورتمو بورجلو باندې!!؟

شاعر : پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

ترتيب کوونکی : عبدالقادر مسعود